# لیونی

# ملا

**لیکوال:** داکتر معمار حشمت الله اتمر
**پیخلیک:** غبرګولی/ کال ۱۴۰۵ لیږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** لېونی ملا

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ایډیټور:**

**د پخښتی دیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** میاشت - غبرګولی / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ
ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتئ........................................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحیم .................................................. ۲
لیکي پوهه:..................................................................... ۳
لړلیک ........................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)..................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:........................................................... ۷
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) .......................................... ۸
د چاپ شویو کتابونو لېست............................................ ٦۸
د کار لاندې کتابونو لېست ........................................... ۷۲
د امکان او وخت په صورت کې...................................... ۷۳
د پخښتئ څڼ .............................................................. ۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

## تړانږ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي په زړه پورې داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه، کابل ښار کې پیل شوې او بیا وروسته د ګاونډ هېواد (پاکستان) ته غزېدلې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونې:**

- د دې کتاب داستان د درېیو کسان له خولې (قوله) لیکل شوی او په ډېره ځیرکتیا سره، ګنډل شوي ده.
  د ځینو غورونو (ملحوظاتو) په پام کې نیولو سره، د کیسې کونکو د نوم نه، په دې کتاب کې، ډډه شوي ده.
  خو د خدای نه هغوی ته د بریالیتوب، روغتیا او اوږد عمر غوښتنه کوم.
- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت سره هیله کیږي چې، خپلې غوښتني او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتني له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت

ډاکتر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی ملا
.................

## د يادښتونو له پاره:

۱- ................................................................................

۲- ................................................................................

۳- ................................................................................

۴- ................................................................................

۵- ................................................................................

۶- ................................................................................

۷- ................................................................................

۸- ................................................................................

۹- ................................................................................

۱۰- ..............................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

محمد قاسم په یوې دینداره کورنۍ کې، د کابل زوړ ښار ته څېرمه، سترګې دې نړۍ ته، خلاصې کړې.

پلار یې د دیني علومو، عالم او پوخ (زبردست) ملا، و.

پلار یې د کوشنیوالي نه، پر هغه دیني زده کړې، پیل کړې.

هغه هم د خپل پلار په شان د دینې علومو سره ډېره مینه، درلوده.

په کوشنیوالی کې به یې سپینه کوشنۍ پګړۍ د سپینې خولۍ سره، په سر تړه او کله، کله به د پګړۍ سره هم د باندې ګرځېده او د نورو ماشومانو، کومو چې به په لوبو، بوخت وو، ننداره کوه.

کوشنیانو به هغه هڅاوه تر څو په لوبو کې ونده واخلي، مګر هغه هیڅکله په لوبو کې ونده، نه اخیسته او ویل یې:

پلار مې وایي:

غوره کار تر لوبو، دیني زده کړې دي.

دا لوبې چا ته مرستې، نه شي رسوی،

ماشومانو به، هغه ته، ویل:

ته هسې لېونی یې.

مونږ هم سهار جومات ته راځو او ستا د پلار نه، دیني زده کړې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دومره بس، دي.

مونږ نه غواړو چې ملايان شو.

مونږ هره ورځ، ښوونځي ته، ځو.

بيا کورته، راځو.

ډوډۍ خورو.

خپلې کورنۍ دندې، تر سره کوو.

کله نا کله د کورنۍ دندو نه وروسته، د يوې او يا دوې ګړيو له پاره ويده کېږو.

بيا ورسته له خوبه پاڅېږو.

لمړی خپل مخ او لاسونه مينځو، بيا کوڅو ته راوځو او پر لوبو پيل کوو.

زمونږ لوبې د هر موسوم (موسن) سره سمې دي.

په ژمي کې چې هرې خوا واورې وې، مونږ د بامونو پر سر کاغذ پران بازی (باد بادک)، تار جنګي، چېلک جنګي کوو او هم په کوڅو کې، يخمالک وهوو.

په دوبي کې، توپ ډنډه او ډنده کلک کوو.

په پسرلي اومني کې، چارماغ (چهارمغز بورد)، توشله (تشله) بورد، بجل بازی شدومک، ګيرکان او داسې ورته نورې، لوبې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

کله ناکله د کوڅې ځوا نانو سره په لوبو کې برخه اخلو او د هغوی نه لوبې زده کوو.

قاسم به ویل:

تاسو سم سوچ، نه کوئ.

ژوند، تېرېږی.

دا دنیا څو کالونو د پاره، ده.

په بلې دنیا کې ستاسو لوبې په درد، نه خوري.

ماشومانو به، خندل او ویل:

تا د اوس نه ځان ملا جوړکړی دی.

ښه به وي چې ښوونځی، ولولې او ډاکټر یا انجینر شې.

په دې کار سره کولای شې، ځان، هېواد او خلکو ته، ګټه ورسوې.

قاسم به ویل:

ملایان هم تاسو ته دیني زده کړې، درکوي.

تاسو ته، ښې لارښووني، کوي.

تاسو د ورانو(بدو) کړنو نه، ساتي او په هغې دنیا کې چې تل له پاره ژوند دی، تاسو جنت ته رابولي.

بیا به ماشومانو ویل:

ته په دې خبرو، څه پوهېږې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسم به ويل:

زه د خپل پلار نه، زده کړې کوم.

هغه ما ته د ښو کړنو لارښونه کوي، کومې چې په قرآنکريم کې ليکل شوې دي.

ماشومانو به، خندل.

هغه به ماشومانو ته څه، نه ويل.

هغه به د لوبو ډګر پرېښوده او بېرته به، کور ته، کوم چې د جومات ترڅنګ شتون درلود، ته.

ورځې، شپې او شپې په ورځو اوړېدې (اوښتې).

و ختونه تېرېدل.

قاسم هم، لوېده.

هغه به هره ورځ، نوې زده کړې کوې.

لمړی يې الف، بې، څې خلاصه، کړه.

بيا يې نورې او د قرآنکريم يادېدو زده کړې، وکړې.

بيا يې پنج ګنج کتاب، خلاص کړ.

ور پسې يې د ګلستان او بوستان سعدی کتابونه هم بشپړ، کړل.

بيا پر خلاصه ای کيدانی، پيل کړ.

همداسې يې، نور ديني کتابونه لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

القدوري، کنزالساکنين او داسې نور، هم زده کړل.

هغه ليکل او لوستل هم، د خپل پلار او نورو ملايانو نه زده کړل.

په نهه کلنۍ کې، هغه کولای شو، ليک وليکي او ولولي.

هغه خورا ښه ليک، درلود.

کله ناکله به يې د ماشومانو د ليک (مشق) کورنۍ دندو کې هم، مرستې کوې.

ماشومان به حيرانېدل چې، قاسم ښوونځي ته، نه دی تللی، نو څنګه هغه ښه ليکي او تر دې چې، زمونږ سره، مرسته کوي.

بيا يې هم، کور ودان.

هغه لږ، لوی شو.

پر ځوانۍ ورسېد.

هغه ښکلی ځوان شو.

د پلار ملګرو يې د هغه پلار ته و ويل:

قاسم مخ په ځوانېدو ده، ښه به وي چې هغه ته د کوژدې غمه وخورئ.

پلار يې و ويل:

زه خو پيسې، نه لرم.

او پوهېږئ چې په کوم کور کې چې ژوند کوم، جومات  پورې، اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته کوټې، هم لرې دي.

که هغه ته واده وکړو، بیا به هغه ته جلا کوټه له کومه، کړو؟

د هغه پلار، ډېر ښه ملګري، درلودل.

او کله ناکله به یې د هغوی سره، مشورې هم کوې.

یوه ورځ په سوچ کې ډوب و؛

له ځانه سره یې ویل:

که زه هغه ته واده وکړم، پیسې به یې له کومه کړم؟

بیا به هغه ته، کوټه له کومه، کړم؟

په سوچونو کې ډوبېده او د وتو لاره یې هم، نه درلوده.

څو دکیکې (دقیقې) په سوچونو کې ډوب، و.

په دې وخت کې د هغه یوه ملګری راغی او دروازه یې و ټکوه.

ښخې یې پرې غږ کړ.

ملا صیب!

څوک دروازه ټکوي

هغه شټ واهه او د سوچ نه، و وت.

بیا یې و ویل:

کومه دروازه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې يې و ويل:

د انګړ دروازه.

هغه سر وخوزاوه او له ځايه پاڅېد.

لنګوټې يې پر سر کېښود او دروازې ته روان شو.

دروازه يې خلاصه کړه.

د دروازې تر څنګ (شا) د هغه ملګری و.

ملګري يې هغه ته، سلام واچوه.

د قاسم پلار هم د هغه سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې ملګري ته و ويل:

راځه!

د ننه راشه!

ملګری يې و ويل:

وګوره چې، څوک نه وي.

د قاسم پلار غږ کړ.

څوک دې نه وې!

بيا يې خپل ملګري ته و ويل:

راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

څوک، نه شته.

د قاسم پلار مخکې او د هغه ملګری ورپسې شو.

د هغه ملګري ،څو ځل د خبر ورکولو په توګه، وټوخل.

بیا دواړه د قاسم پلار کوټې ته ننوتل.

د قاسم پلار، کوټې دروازه یې، وتړه.

بیا یې خپل ملګری ته، و ویل:

پر دې توشکې، کښېنه!

هغه پر توشکې، کښېناست.

د قاسم پلار د کړکۍ پرده هم ټوله کش (بنده، مخه ونیوه) کړه.

بیا  د کوټې نه د باندی او پر ښځې یې غږ کړ:

چای راوړه.

ملګري یې و ویل:

چای ته اړتیا، نه شته.

کښېنه!

غوږې به، پیل کړو.

د قاسم پلار و ویل:

بې له چای نه، هم نه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به چای وڅښنو او هم به غورې وکړو.

د هغه ملګري و ویل:

ستا خوښه!

غورې(کیسې) پیل شوې.

چای دم شو.

ښځې یې دروازه وټکوه.

د قاسم پلار د کوټې دروازه خلاصه او د باندې شو.

ښځې یې هغه ته د چای مجمه (پطنوس) وړاندې کړ.

د قاسم پلار، مجمه واخیسته او کوټې ته یې د ننه کړه.

بیا یې دروازه، بېرته وتړه.

چای یې په پیالو کې واچوه.

یوه پیاله یې خپل ملګری ته وړاندې او بله یې ځانته کېښوده.

بیا یې د هېواد شیرینیو غاب، خپل ملګري خوا ته، نږدې کړ.

دواړو پر چای څښلو، پیل کړ.

کله یې د یوه غره او کله به یې د بل غره ،خبرې کوې.

هغوی په خبر اترو اومرکو بوخت شو.

ښځې یې په ګوتو سره ورو، ورو دروازه وټکوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

د قاسم پلار د باندې شو.

ښځه يې د دروازې تر څټ غلې ولاړه وه.

د قاسم پلار و ويل:

خيريت خو به وي، چې دروازه دې وټکوه؟

هغې په ټيټ غږ و ويل:

غوښتل مي د قاسم د کوژدې په هکله، خپل ملګري سره خبره وکړه.

قاسم اوس ځوان او نيمچه، ملا دی.

هغه کولای شي لمونځ ورکړي او ماشومانو ته ديني سبق و وايي.

د قاسم پلار و ويل:

سمه ده !

زه به ورته، و وايم.

بيا ښځه يې بلې کوټې ته لاړه، او د قاسم پلار هم پخوانۍ کوټې ته د ننه او ميلمه ته نږدې، کښېناست.

په خبرو، خبرو کې يې خپل ملګری ته، و ويل:

غوښتل مې يوه خبره در سره ګډه (شريکه) کړم.

ملګري يې و ويل:

سمه ده!

مهرباني وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:

زما زوی، قاسم خو پېژنې؟

ملګری یې، و ویل:

هو!

پوخ یې پېژنم.

که دروغ و نه وایم، تر تا یې هم ښه پېژنم.

بیا یې و ویل:

خیریت خو به وی؟

د قاسم پلار و ویل:

هو!

خیریت دی.

بیا یې زیاته کړه.

قاسم اوس ځوان شوی او نیمچه ملا هم دی.

مونږ غواړو لمړی هغه ته چېرته دنده (ملایی) پیدا بیا ورته واده وکړو.

ښه به وی چې هغه په خپلو پښو ودرېږی.

ملګری یې و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

دا سمه خبره ده!

زه د تاسره همغږی (موافق) یم.

بیا د قاسم پلار و ویل:

آیا ته او ستا دوستان کولای شي هغه ته، کوم ځای ملایي و مومي؟

هغه په سوچ کې شو.

څنډ وروسته یې و ویل:

زه به، پوښتنه وکړم، بیا به تا ته احوال درکړم.

د قاسم پلار و ویل:

سمه ده!

ته خپل کوښښ وکړه او د نورو دوستانو سره یې هم ګډ (شریکه) کړه.

چاي په مزه ،مزه وڅښنل شو.

غرمه نږدې، شوه.

قاسم د پلار ملګري و ویل:

ما ته اجازه شته، چې خپل کور ته لاړ شم؟

د قاسم پلار و ویل:

اوس غرمه ده.

د غرمې ډوډی زما سره وخوره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګری یې و ویل:

مننه کوم.

زه باید لاړ شم.

ډوډۍ به کور کې و خورم.

بیا به ،اودس وکړم.

وروسته به، لمونځ ور کړم.

د قاسم پلار و ویل:

ستا خوښه!

زمونږ ډوډۍ خو، تیاره ده.

خلک وايي:

څه چې تیار، هغه د یار.

ملګري یې و ویل:

پوهېږم!

ډېره، ډېره مننه.

بیا له ځایه پاڅېد او د قاسم پلار ته یې  و ویل:

وګوره!

څوک نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم پلار هم له ځایه، پاځېد.

دروازې ته نږدې او هغه یې خلاص کړه.

بیا وتوخېد.

د هغه ښځه کوټې ته، د ننه شوه.

بیا یې خپل ملګري ته، و ویل:

راځه !

ژوک نه، شته!

بیا یې د دروازې تر شا د خپل ملګري بوټان سم کړل.

ملګری یې بوټان په پښو کړل او د انګړ دروازې خوا ته یې پښې ګړندۍ کړې.

وروسته د قاسم پلار، د مخه شو.

د انګړ دروازه یې خلاصه کړه او خپل مېلمه سره د انګړ نه د باندې شو.

ملګري یې د هغه نه خدای پاماني واخیسته او پر خپله مخه لاړ.

د قاسم پلار هم، بېرته راوګرځېد او انګړ ته د ننه شو.

د انګړ دروازه یې بنده کړه، بیا خپلې کوټې ته، لاړ.

په دې وخت کې د هغه ښځه، کوټې ته د ننه شوه او هغه ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قاسم په هکله دې خپل ملګري ته، و ویل:

هغه و ویل:

هو!

پایله یې څنګه شوه؟

هغه و ویل:

ملګری مې و ویل:

زه به ستا خبره د نورو دوستانو سره ګډه (شریکه) کړم او کوښښ به وکړم، تر څو هغه ته دنده ومومو

بیا ښځې یې د هغه ملګري ته، دوعا (دعا) وکړه.

ډوډی، تیاره وه.

ښځې یې، غږ کړ.

کولای شم، کتغ و باسم.

د قاسم پلار و ویل:

هو!

د لمانځه وخت هم، نږدې کیږی، لمړی به ډوډۍ وخورو، بیا به اودسونه او وروسته به لمنځونه وکړو.

ښځې یې و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې پر خپل کوچني ماشوم غږ او ویې ویل:

اله!

د لاس منځلو کوزه او لګن راوړه.

دلاس دسمال دې هم، له هېره و نه اوځي.

لږ ځند وروسته د هغې کوچني زوی، غږ کړ.

لګن مې پیدا، مګر کوزه، ورکه ده.

هغې و ویل:

د منځلو نه مې وروسته یوه ځای لمر ته، ایښي وه.

زوی یې بیا، په لټه کې شو او ویې ویل:

ما خو پیدا نه کړه، ته په خپله، وګوره!

هغه هم په لټه کې شوه.

اخوا دېخوا وګرځېده، کوزه یې پیدا نه کړه.

بیا یې په یاد راغله چې سهار د منځلو نه یې وروسته د اوبو نه ډکه کړې او لمر ته یې ایښې ده.

د ځان سره په خندا شوه.

بیا یې خپل زوی ته و ویل:

هغه مې لمر ته، ایښې وه، زما هم له یاده وتې وه.

زوی یې، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته له اوسه لېونی، یې.

څو کاله وروسته به دې ډوډۍ خوړل هم له یاده و وځي.

هغې و ویل:

دومره لېونی، هم نه یم.

یوازې نن مې له هېره و وته.

زوی یې و ویل:

سمه ده!

ته کتغ و باسه او زه به په لاسونو، اوبه واچوم.

د هغې زوی، د کورنۍ غړو لاسونه پرېمنځل.

مور یې هم دستر خوان اوار او ډوډۍ یې پرې کېښوده.

بیا یې، تود کتغ راوړ او ټولو د بسم الله په ویلو سره، پر خوراک، پیل کړ.

ډوډۍ وخوړل شوه.

دستر خوان ټول او چای راوړل شو.

د چای څښلو نه وروسته، د قاسم پلار پاڅېد او د کوټې نه د باندې شو.

بوټان یې په پښو کړل او دانګړ نه هم د باندې شو.

ښځې ته یې غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروازه بنده کړه!

ښځې يې و ويل:

سمه ده!

هغه جومات ته لاړ.

او د لمانځه ورکولو نه وروسته، بېرته کور ته، راغی.

ورځې شپې او شپې په ورځو بدلېدې.

څه وخت تېر شو.

مياشت وروسته د هغه ملګری، بيا راغی.

اوا (هوا) سړه او د ژمي ورځې وې.

دروازه يې وټکوه.

د قاسم پلار په کور کې و.

هغه دروازې ته لاړ.

دروازه يې خلاصه کړه.

سترګې يې پر خپل ملګري ولګېدې.

ملګري يې هغه ته، سلام ورکړ.

د قاسم پلار هم د هغه سلام ته وعليکم، و ويل.

بيا يې سره، روغبړ وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګرى ته يې د كور ننوتو، بلنه وركړه.

هغه هم د قاسم پلار سره، د هغه كوټې ته لاړ.

دواړه پر توشكې، كښيناستل.

خبرې پيل شوې.

څو دكيكې تېرې شوې.

ښځې يې چاى دم كړ او د قاسم په لاس يې كوټې ته، ولېږه.

قاسم كوټې ته، د ننه شو.

سلام يې، وركړ.

د قاسم د پلار ملګري، د هغه سلام ته، وعليكم و ويل.

هغه چاى مجمه (پطنوس)، د مېلمه مخې ته كېښوده.

بيا يې په پيالو كې چاى، و وېشه.

لمړۍ پياله يې د خپل پلار ملګري مخ ته، كېښوده.

بله يې خپل پلار مخې او درېيمه يې ځانته جلا، كړه.

بيا يې خوږه (شېريني) ميلمه ته وړاندې كړه.

ميلمه پوښتنه وكړه:

دا خو به قاسم نه وي؟

د هغه پلار و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په خپله دی.

د وزګار تیا له کبله، ډېری وخت په کور کې وي.

هغه و ویل:

ما شا الله!

ښکلی او تکړه ځوان دی.

تا د همده له پاره د کار موندنې په لټه کې وې؟

د قاسم پلار و ویل:

هو!

لمړی مې غوښتل د هغه له پاره دنده او بیا وروسته، هغه ته، کوژده وکړم.

ملګري يې، و ویل:

ما خو د وعدې سره سم هغه ته دنده پیدا کړه.

د قاسم پلار ډېر خوشحاله شو او ویې ویل:

چېرته او د څه دنده؟

ملګري يې و ویل:

زمونږ او تاسو په نصیب کې یوازې، یوه دنده ده.

دا دنده ملايي نومېږي.

د قاسم پلار په خندا شو او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

مونږ هم، پا چاهي نه غواړو.

بيا درېواړه، کښې، کښې په خندا شوو.

وروسته، ملګري يې جب ته لاس کړ.

دسمال يې د جب نه و باسه او خپله پوزه يې په دسمال پاکه کړه.

بيا يې و ويل:

قاسم دې خدای بې تالو (طالو، طالع) نه کړي.

هغه ته مي د اومې سيمې (ناحي) اړونده، د سرک نو په سيمې کې په يوه جومات کې، امامي ومونده.

قاسم او د هغه پلار ډېر خوشحاله شوو.

بيا د قاسم پلار و پوښتل:

آلته د قاسم له پاره د اوسېدو ځای شته؟

ملګری يې و ويل:

هو!

يوه خونه (کوټه) شته، کومه چې حمام هم لري.

په دالان (دهلېز) کې، کوشنی ځای د پخلي له پاره، هم لري.

قاسم خوشحاله شو او ويې ويل:

شاوخوا خلک، د کوم ځای دي؟

د قاسم پلار، ملګری و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو کابل یانې پلازمېنه ده.

د هر ولایت کسان په کې شته، خو ډېری یې پاړسي (دري) ژبې دي.

قاسم موسکی، شو.

بیا یې و پوښتل:

تنخوا، څوک ورکوي؟

د پلار ملګري یې هغه ته و ویل:

تنخوا خو، دولت ورکوي.

مګر درې وخته ډوډۍ، پر خلکو ده.

هغوی په وار(نوبت)، ډوډۍ ورکوي.

بیا د قاسم ملګري زیاته کړه:

البته به لمونځ ورکوي او هم به د سهار او ماسپښین لمانځه نه وروسته به، ماشومانو ته دیني سبکونه (سبقونه) وایي.

قاسم و ویل:

سمه ده!

کومه ستونزه، نه وینم.

چای څښل خلاص شو.

بیا د قاسم پلار ملګري، و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به دواړه اومې سیمې (ناحې) ته لاړ شو.

تا به، د سیمې ملکانو سره آشنا او هم به د مازیګر لمونځ جمع، مونږ ته، راکړې.

هغه و ویل:

سمه ده!

بیا د قاسم پلار ملګری، له ځایه پاځېد.

قاسم ته یې، و ویل:

درځه چې، لاړ شو.

قاسم هم، پاڅېد.

دواړه یوه ځاي، د انګړ نه د باندې شوو.

لمړی د ښار مرکز، بیا د تېمورشاهی واټ ته، لاړل.

وروسته د لرزانک پله نه تېر شوو او د پوهنتون موټر تم ځای ته خېرمه، د موټر په انتظار شوو.

الته پخوا د چهلستون د موټرو تم ځای، و.

څه موده تېره شوه.

د چهلستون د موټر، ملی بس چې د ټا ټا او هند هېواد تولید و، ورسېد.

دواړه د موټر د څټ (شا) دروازې نه وختل.

د قاسم د پلار ملګري، څوکی و مونده او پرې کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر قاسم ته، څوکۍ پاتې نه شوه.

هغه د بس په دالان کې، ودرېد.

څو دکيکې وروسته، موټر ډک شو، ملي بس حرکت وکړ.

د موټر نګران (کس چې پخوا به يې په ملي بس کې پيسې ټولوې) غږ کړ.

خپلي ماتې پيسې وباسئ!

په هغه وخت کې د ملي بس موټرو کرايه هم، يوه افغانۍ وه.

د قاسم پلار ملګري دوې افغانۍ له جبه و وېستې او نګران ته يې، ورکړې.

څه ځنډ وروسته، نوی سړک (سرک نو) تم ځای ته، ورسېدل.

بيا کلينډر غږ کړ:

سرکې نو والا کوز، شئ!

د قاسم پلار ملګری ودرېد او قاسم ته يې و ويل:

له خيره ورسېدو.

راځه چې کوز، شو.

هغوی له موټر نه، کوز شوو او د سرکې نو تخنيکم په پاخه سړک لمر خاتو (ختيځ) پلو، روان شوو.

د تخنيکم ودانۍ له ورايه ښکارېده، کومه چې د پخواني شوروي هېواد په مالي مرسته، جوړه شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

بیا هغوی د ملا بزرګ، زیارت کوټې ته، ورسېدل.

د قاسم پلار ملګري و ویل:

دا دی!

ورسېدو!

بیا د ملا بزرګ، کوټې ته ننوتل.

څو ګامه وروسته جومات، ښکاره شو.

د قاسم پلار ملګري و ویل:

دا جومات، په خپله دی.

بیا د جومات انګړ دروازې ته، ورسېدل.

د جومات انګړ دروازه تړلې وه.

د قاسم د پلار ملګري، قاسم ته و ویل:

ته د دروازې تر څنګ ودرېږه، زه به د ملک کورته، لاړ او کیلۍ به ترې، واخلم.

قاسم و ویل:

سمه ده!

قاسم، د دروازې تر څنګ ودرېد.

قاسم د پلار ملګری، ملک کور خوا ته، لاړ.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې هغه، د یوه کس سره، راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا قاسم د پلار ملګري، قاسم یې د هغه سره وپېژاند (معرفي کړ).

بیا ملک د هغه سره روغبړ وکړ.

وروسته یې کیلۍ له جبه، و ویسته او جومات د انګړ دروازه یې خلاصه کړه.

بیا درېواړه، جومات انګړ ته، ننوتل.

ملک، قاسم یې د انګړ سره بلد او وروسته یې هغه ته، د اوسېدو خونه (کوټه) و ښوده.

بیا یې هغه ته، و ویل:

دا د جومات اودس خونه ده.

دلته یوه کوشنی حمام خونه او څو تشنابونه هم شته، چې د اړتیا په وخت کې، ټول خلک، ترې کار اخیستی، شي.

قاسم و ویل:

مننه کوم.

تر اوسه، اودس لرم.

بیا هغوی جومات ته، ننوتل.

شاو خوا وګرځېدل.

د مازیګر د لمانځه، وخت نږدې شو.

ملک، ملا قاسم ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

دا د جومات لوډسپيکر دی.

د همدې ځای نه، کولای شئ، آذان ور کړې.

څه ځنډ وروسته ملا قاسم د مازيګر اذان ورکړ.

سيمې خلکو د مازيګر آذان په اورېدوسره، خوشحاله شوو.

خلک راټول شوو.

ملا قاسم د مازيګر لمانځه، جمع ورکړه.

وروسته د هغه د پلار ملګرې و ويل:

اوس به ملا قاسم کورته، لاړ شي.

د خپل پلار او مور نه خدای پاماني واخلي او خپله بستره او نور ضروري شيان به هم، له ځانه سره، راوړي.

ملک و ويل:

سمه ده!

خو دلته مونږ د پخلي خونې اسباب لرو.

ملا صيب قاسم هم کولای شئ، ترې ګټه پورته، کړي.

په خبرو، خبرو هغوی د جومات له انګړ نه، و وتل.

ملک د جومات انګړ دروازه، وتړه.

بيا يې هغوی ته د کور تګ، بلنه ورکړه.

ملا قاسم هم، د هغه نه مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

ملک خپل کور ته روان شو.

د ملا قاسم پلار ملګری هم د ملا قاسم نه، خدای پاماني واخیسته اوملا قاسم ته یې د ملک کور و ښود.

بیا یې زیاته کړه.

سبا چې راغلې، لمړی د ملک کورته لاړ او کیلې ترې واخله.

ملا قاسم و ویل:

سمه ده!

بیا یې د خپل پلار ملګري نه مننه وکړه او مخ پر تم ځای یې، حرکت وکړ.

څو دکیکې وروسته د ښاري موټرو تم ځای ته، ورسېد.

هغه بیا هم په یوه ملی بس کې، کښېناست او ښار کې، کوز شو.

ماښام لمونځ یې په جمع، د پل خشتی جومات کې، ادا کړ.

بیا ورو، ورو کور ته روان شو.

لږ ځنډ وروسته، کور ته، ورسېد.

دروازه یې و ټکوه.

کوشنی ورور یې، دروازه خلاصه کړه.

ملا قاسم کورته، د ننه شو.

څه ځنډ وروسته، پلار یې هم د جومات نه، کورته، ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا قاسم، ټوله کيسه هغه ته، وکړه.

پلار يې ډېرخوشحاله شو.

بيا يې خپلې ښځې ته، و ويل:

سبا وختي، د قاسم بستره لمر ته واچوه، بيا يې په بوغبند کې وتړه چی سبا د غرمې نه وروسته يې له ځان سره يوسي.

هغی و ويل:

سمه ده!

وروسته يې قاسم ته و ويل:

په اوني کې يوه ورځ راځه او خپل کالي هم د ځانه سره راوړه، چې درته يې پرېمنځم.

هغه و ويل:

سمه ده مورې.

هرو مرو به يې راوړم.

زه خو په منځلو يې هم، نه پوهيږم.

مور يې و ويل:

په اونۍ کې يوه ورځ، خپله بستره هم لمر ته اچوه.

ملا قاسم و ويل:

سمه ده مورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

د شپې ډوډۍ خوړلو نه وروسته ټول بیده شو.

ملا قاسم ډېر خوشحاله و.

د خوشحالۍ نه یې ښه خوب، و نه کړ.

راز، راز سوچونه به یې، وهل.

سهار شو.

ملایانو د سهار آذانونه، کول.

د قاسم پلار، ملا قاسم او د کورنۍ نورو غړي یې هم د خوب نه پاڅېدل.

اودسونه یې، وکړل.

بیا ملا قاسم د خپل پلار سره، د کور نه، و وت او جومات ته، روان شوو.

لمونځ یې په جمع ادا او ورسته د کلیوالو سره په خبرو بوخت شوو.

لمر راوخوت.

هر څوک (کس) خپلو کورونو خوا، روان شوو.

ملا قاسم هم د خپل پلار سره، کور ته ستون شو.

مور یې له ورایه د هغه بستره لمر ته غوړولې وه.

د سهار چای تیار و.

ټولو په خوند سره، د سهار چای و څښل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

ملا قاسم هم د ځينو کتابونو په ټولولو بوخت شو.

کتابونه يې راټول او څو کتابچې يې هم ور سره کېښودې.

بيا يې د کوټې الماری نه، دوې کلمونه (قلمونه) او يوه پنسل هم د کتابونو تر څنګ، کېښودل.

ورسته يې څه د سپينو کاغذونو چوپړې و موندې او هغه يې هم د کتابونو تر څنګ کېښودې.

ورځ تېره او غرمه شوه.

ډوډۍ يې په کور کې، وخوړه.

د ګاونډي کورته لاړ او د هغه نه يې د لاس ګاډي غوښتنه وکړه.

هغه ورته لاس ګاډی ورکړ.

ملا قاسم، نه شو کولای چې د لاس ګاډي نه، کار واخلي.

بيا ګاونډ يې و ويل:

زه به خپل زوی ته غږ و کړم، تر څو، د تا سره، مرسته وکړي.

ملا قاسم و ويل:

سمه ده!

بيا ګاونډ يې خپل زوی ته، غږ کړ.

د هغه زوی، راغی.

پلار ته يې، سلام ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

پلار یې د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

ګاونډ خپل زوی ته و ویل:

ملا صیب قاسم، لاس ګاډی نه شي چلولی.

ته ور سره، مرسته وکړه!

زوی یې و ویل:

سمه ده پلاره!

د ګاونډي زوی د ملا قاسم سره دهغه کور ته، روان شوو.

لاس ګاډی یې د هغه دروازې اړخ ته ودراوه او ملا قاسم ته یې و ویل:

لاړ شه!

بستره راوباسه او لاس ګاډي کې یې کېږده.

ملا قاسم کور ته، د ننه او بستره یې څټ (شا) ته، واچوه.

د کوره، و وت.

لمړی یې خپله بستره په لاس ګاډي کې، کېښوده وروسته یې ټول شوي کتابونه او نور شیان یې هم تر څنګ، کېښودل.

د ګاوند زوی، وپوښتل:

ټول شیان خلاص شو.

ملا قاسم و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هو!**

بیا ګاوندۍ زوی، و ویل:

کومي خوا ته، ځو؟

ملا قاسم و ویل:

لږ صبر وکړه، زه به د خپلي کورنۍ سره خدای پاماني وکړم.

ګاوندۍ زوی، و ویل:

سمه ده!

زه درته انتظار کوم.

ملا قاسم په چټکۍ سره، کور ته د ننه شو.

څو دکیکي وروسته ، بېرته د باندي شو.

په سترګو کي یي اوښکي څرخېدي.

بیا یي دسمال د جبه و ویست او پر سترګو یي وګرځاوه.

وروسته یي دسمال کات (قات) او بېرته یي په جب کي د ننه کړ.

ګاوندۍ زوی ته یي و ویل:

څه چي ځو!

الک و پوښتل:

کومي خوا، لاړ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا قاسم و ویل:

پوخ سړک خوا.

الک و ویل:

سمه ده!

په دواړو سترګو.

بیایې لاس ګاډی ته، حرکت ورکړ.

څو دکیکې (دقیقې) وروسته، پوخ سړک ته ورسېدل.

بیا یې الک ته و ویل:

دلته ودرېږه!

زه به یوه ټکسي موټر، ونیسم.

الک و ویل:

سمه ده!

ملا قاسم ټکسي موټرو ته، لاس نیوه او د هغو د چلونکو سره به یې په بیه کې جګړې، کوې.

لږ څنډ وروسته یوه چلونکي د هغه سره سم (موافقه) شو.

چلونکی د موټر نه کوز او د موټر ډاله یې خلاصه کړه.

د هغه بستره یې په کې کېښوده.

کتابونه او نور شیان یې، د موټر په سیټ کې، کېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

چلونکی، پر خپلې څوکی، کښېناست.

بیا یې ملا قاسم ته اشاره وکړه، تر څو، موټر ته د ننه شي.

ملا قاسم د الک نه، مننه وکړه.

بیا یې د هغه نه، خدای پاماني واخیسته او موټر ته، د ننه شو.

الک په خپله مخه او ملا قاسم هم نوې دندی خوا، روان شو.

څه ځنډ وروسته، التـه ورسېد.

موټر یې نږدې جومات سره ودراوه او د هغه نه یې و غوښتل، د څو دکیکو (دقیقو) له پاره ودرېږي، تر څو د ملک د کور نه کیلی، راوړی.

چلونکي و منه، او موټر یې بند کړ.

ملا قاسم د ملک کور خوا روان او دروازې ته نږدې شو.

دروازه یې وټکوه.

د هغه زوی دروازې ته، راو وت.

لمړی یې دروازه خلاصه کړه او ملا قاسم ته یې سلام ورکړ.

ملا قاسم هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا د ملک زوی وپوښتل:

څوک او د چا سره دې، کار دی؟

ملا قاسم و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

زه ملا قاسم او د ستاسو جومات نوی ملا امام، یم.

الک خوشحاله شو او ویې ویل:

ډېر ښه!

څه غواړې؟

ملا قاسم و ویل:

ملک صیب په کور کې شته؟

الک و ویل:

هو!

پلار مې، په کورکې دی.

ملا قاسم و ویل:

کېدای شي دهغه نه د جومات کیلۍ راوړې؟

هغه و ویل:

زه کور ته ځم او هغه ته، وایم.

هغه په منډو، کور ته د ننه شو.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې، ملک دروازې ته راغی.

دروازې نه، د باندې شو.

سترګې یې پر ملا قاسم، ولګېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر خوشحاله شو.

لمړی یې، هغه ته سلام ورکړ.

ملا قاسم، د هغه سلام ته وعلیکم، و ویل.

بیا ملک، ملا قاسم ته د کور د ننوتو بلنه، ورکړه.

ملا قاسم مننه وکړه او ویې ویل:

ټکسي موټر، ولاړ دی.

باید بستره ترې کښته او کوټې ته یې، یوسم.

ملک و ویل:

سمه ده!

درځه چې، ځو.

دواړه د ټکسي موټر خوا ته، روان شوو.

په دي وخت کې چلونکی، هم د موټر نه، کښته شو.

ملک او ملا قاسم دواړه موټر ته نږدې، شوو.

بیا ملک، ملا قاسم ته کیلۍ ورکړې او هغه ته یې و ویل:

ته د جومات دروازه خلاصه او زه به بستره، دننه کړم.

ملا قاسم مننه وکړه او کیلۍ یې، واخیستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جومات دروازه يې خلاصه او ملک هم بستره د موټر د ډالې نه ښکته، د جومات انګړ ته يې د ننه کړه او پر اوچت او پاک ځای يې کېښوده.

ملا قاسم ټکسي ته نږدې او د موټر کرايه يې ورکړه.

بيا يې د موټر نه کتابونه، نور شيان کوز او د چلونکي نه يې مننه او بيا وروسته يې خدای پاماني واخيسته او جومات، ته د ننه شو.

د جومات دروازه يې پورې کړه.

چلونکي هم موټر چالان ( شټات) او ببرته، مخ پر ښار، روان شو.

ملک د ملا قاسم سره د هغه بستره او نور شيان کوټې ته، د ننه کړل.

بيا يې د ملا قاسم نه پوښتنه وکړه:

ډوډی دې خوړلې ده؟

هغه و ويل:

هو!

ډوډی مې په کور کې، خوړلې ده.

بيا ملک و ويل:

ته کوټې کې خپل کالې ځای پر ځای او زه به د خپل زوی په لاس تا ته چای، ولېږم.

ملا قاسم د هغه نه، مننه وکړه.

بيا ملک د ملا قاسم نه وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

شین چای درولېږم او که تور چای؟

ملا قاسم و ویل:

زه د شین چای سره، عادت یم.

که شین چای وي، ډېره مهرباني به مو، وي.

ملک و ویل:

ستونزه نشته!

زه به، تا ته، شین چای ولېږم.

ملا قاسم، د ملک نه مننه وکړه.

ملک د جومات انګړ نه، و وت او خپل کور ته روان شو.

څو دکیکې وروسته یې، ملا قاسم ته، چای واستاوه.

د چای سره لږه خوږه، هم وه.

ملا قاسم د چای د څښلو نه وروسته، خپل ماسپښین لمونځ بې له جمع نه، ادا کړ.

بیا یې د مازیګر آذان او پر خپلې دندې پیل کړ.

کال یې تېر کړ.

بیا یې د مجلا اسناد جوړ، تر څو د عسکري نه معاف شي.

دوې کاله تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

پلار یې هغه ته کوژده وکړه او کال وروسته یې، هغه ته واده هم وکړ.

د خدای فضل ده، د ملایانو رسم او رواج لنډ او لږ مصرفه وي.

دا کار د شریعت سره هم تړلی او پر ځواني کورنۍ کوم بوج، نه راولي.

او د بلې خوا په کې، ډېر ثواب هم شته.

ملا قاسم خېل نوی ژوند یواځې او د خوشحالۍ سره پیل کړ.

کال تېر شو.

لمړی د هغه پلار په حق و رسېد.

بیا شپږ میاشتې وروسته یې مور هم مړه (وفات) شوه.

دوې کاله وروسته، خدای هغه ته یوه ښکلی ماشوم ورکړ.

بیا دوې کاله وروسته، هغه ته خدای بل ماشوم، هم ور په برخه کړ.

هغه په دندې بوخت او ټول خلک د هغه نه خوشحاله وو.

هغه به د سیمې خلکو ته، لمونځ ورکاوه، د سهار او ماسپښین لمانځه نه وروسته به یې ماشومانو او نوي تنکې ځوانانو ته، دیني سبقونه ویل.

خلکو به هغه ته، دعا ګاني او په ستونزو کې به یې د هغه سره مرستې کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

بیا یوه کس چې حج یې کړی او حاجي چغل نومېده، د خپل د ورور، کوشنی کور (حوېلي) یې ملا قاسم ته ور کړه، تر څو هوسا ژوند وکړي.

ملا قاسم، الته کډه وکړه او په ربنتیا هم، ارامه شو.

ماشومان یې څه چورپه شو.

یو یې په لاره تګ، پیل او بل یې په چارغوکو، شو.

څو میاشتې، تېرې شوي.

د هغه ښځه امېندواره شوه.

هغوی د نوي ماشوم د راتګ په خوشحالۍ کې، شپې سبا کوې.

د ملا قاسم بل ورور هم زلمی شو او د نورو ورونو او خویندو سرپرستي یې، په غاړه واخیسته.

کله نا کله به ملا قاسم، هم د هغوی سره مرستې کوي.

څه وخت نور هم، تېر شو.

د هغه پر ښځې درد، راغی.

هغې د ملا قاسم نه وغوښتل چې روغتون ته یې، ورسوي.

هغه هم و منه.

اخوا او دېخوا یې و کتل.

سترګې یې پر یوه واسکټ ولګېدې او پر تن یې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

ماشومان يې يوې کوټې ته د ننه کړل، دروازه يې بنده او د ښځې سره په چټکۍ سره، د باندې او د انګړ دروازه يې د څټ (شا) نه هم وتړه.

ښځه يې د لاس نه ونيوه او مخ پر پوخ سړک يې منډې پيل کړې.

لږ ځنډ وروسته، پوخ سړک ته، ورسېدل.

کله يوه موټر او کله به يې بل موټر ته، لاس ورکاوه.

ټکسي هم لږ، وو.

په دې وخت کې يوه کس خپل شخصي موټر د هغوی تر څنګ ودراوه او له هغه يې و پوښتل:

خيريت خو به وي چې داسې وارخطا، يې؟

ملا قاسم و ويل:

ښځه مې ډېره ناروغه ده او غواړم روغتون ته يې ورسوم.

چلونکي و ويل:

اله (هله) ژر، شئ.

موټر ته، وخېژئ.

هغه هم په خپله له موټر نه، ښکته شو.

د ملا قاسم سره يې، مرسته وکړه.

ژر يې دروازې بندې او پر خپلې څوکۍ کښېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر يې چالان او پر ښار لورې يې، حرکت وکړ.

په لاره کې يې موټر په چټکۍ سره زغلاوه تر څو ژر روغتون ته، ورسيږي.

څو دکيکې وروسته هغه د کابل ښار زيږنتون ته، ورسېد.

موټر يې د انګړ دروازې ته نږدې کړ.

د دروازې ساتونکی، ور نږدې شو او د چلونکي نه يې و پوښتل:

څه کيسه ده؟

هغه و ويل:

عاجل ناروغ، په موټر کې، پروت دی.

ساتونکي په چټکۍ سره دروازه خلاصه او موټر هم د روغتون انګړ ته ننوت.

نرسانو په چټکۍ سره تذکره (سټريچر) را و ويسته او هغه يې په تذکرې کې واچوه او بيړني کوټې (عاجلې خانګې) ته يې د ننه کړه.

بيا يوه نرسه، راو وته او ملا قاسم ته يې و ويل:

ستا ناروغه په بېړني حالت کې ده، ته الته نږدې، پر هغې څوکۍ کښېنه.

که چېرې دوايي ته اړتيا شوه، ته به يې د باندې درملتون نه، راوړې.

هغه و ويل:

سمه ده، خورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

ملا قاسم څوکۍ خوا ته روان شو.

د کرسي آیت په ویلو یې پیل کړ.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې، چې یوه نرسه په منډو هغه خوا ته نږدې شوه.

هغه ته ځېرمه ودرېده او نوسخه (نسخه) یې هغه ته، ورکړه.

ملا قاسم و پوښتل:

د کوم ځای نه یې راوړم؟

هغې و ویل:

د باندې درملتون نه یې، ژر راوړه.

هغه له ځایه پاڅید.

نوسخه (نسخه) یې په لاس کې ټینګه و نیوه او په چټکۍ سره د روغتون انګړ نه و وت.

نږدې درملتون ته ، ننوت.

درملتون والا نوسخه وکته او هغه ته یې و ویل:

یوه کلم (قلم) دوایي یې لرو، مګر بل کلم (قلم) یې نه لرو، ته په نورو درملتونونو کې، پوښتنه وکړه.

هغه و ویل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د درملتون نه و وت.

د هر کس نه به یې د بل نږدې درملتون پوښتنه کوه.

لږ مخ ته، لاړ.

د جلب او احضار عسکرو، ورته پام شو.

هغه ته یې و ویل:

چېرته روان یې چې مونږ عسکرو ته هم، نه ګورې؟

هغه نږدې شو.

لمړی یې سلام واچوه او بیا یې و ویل:

تاسو زما په حال، څه خبر یاست؟

زما ښځه ناروغه، ده.

دا دی، نوسخه (نسخه) یې وګوره، دوا پسې سرګردانه، ګرځم.

عسکرو ویل:

نوسخه (نسخه) دې څه کوم.

د عسکرۍ سند لرې؟

هغه و ویل:

هو!

د واسکټ په یوه جب کې لاس د ننه کړ، بیا یې په بل جب کې لاس د ننه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

بیا یې د کمیس د جبونو(جېبونو) په لټولو پیل کړ.

څه یې و نه موندل.

اسناد یې په کورکې پاتې شوي ول او هغه په چټکۍ سره د کوره، وتی و.

بیا یې د عسکرو مشر ته و ویل:

زه خو په چټکۍ سره د کور نه، راو وتم.

اسناد مې د بل واسکټ په جب کې پاتې دي.

د عسکرو مشر و ویل:

غټ سړی یې.

هسې درواغ ، مه وایه!

ملا قاسم و ویل:

زه ملا یم، دروغ نه وایم.

که غواړې، زما سره روغتون ته لاړ شه، د نړدې یې وګوره.

د عسکرو مشر و ویل:

په لېونتوب دې، ځان مه وهه.

دلته پر ځمکه کښېنه، تر څو جیپ موټر راشي.

تا به د راټولول مرکز ته، ولېږو.

نورې خبرې، الته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په زاريو پيل کړ.

هر څه چې به يې ويل، عسکرو مشر، نه منه.

هغه، د عسکرو خوا ته، ودرېد.

په زړه کې يې تېر شو، دا چې:

که چېرې څو افغانۍ هغه ته د رشوت په توګه ورکړم، هغوی به ما خوشې کړي.

بيا د ځايه پاڅېد.

جب ته يې لاس کړ.

څه پيسې يې د جب نه و وېستې.

پيسې يې په نيغه او برالا توګه د عسکرو مشر(کوماندان) ته په جب کې، کېښودې.

د عسکرو مشر پيسې ببرته، ور تېله کړې.

هغه ته يې و ويل:

په ما دې، رشوت خور خيال کړی دی؟

له ځايه پاڅېد.

د ملا قاسم په وهلو يې پيل کړ.

هغه خوارکی يې څو سپېړې، کش کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

هغه هر څه زاری وکړې، خو د خوشې کېدو چانس (شانس) يې لږ شو.

بيا د نورو عسکرو، پر هغه زړه وسوزېد، او هغه يې د وهلو نه خلاص کړ.

ماښام يې د څه نورو ځوانانو سره په موټر کې واچاوه او ټولولو مرکز(مرکز تجمع) ته يې ولېږه.

البته هم د رسېدو سره سم يې، په ژړا او زاريو پيل کړ.

چا يې غږ، نه اورېده.

پوره څلور ورځې تېرې شوې.

سترګې يې د ژړا نه سرې او هېڅ خوب يې نه درلود.

څلور ورځو نه وروسته الوتکه کندهار ولايت ته، پلان شوه.

ملا قاسم يې د نورو کسانو سره، کندهار ښار ته ولېږه.

په اوايي ډګر کې د کښته کېدو سره سم، يې پر ژړا او زاريو پيل کړ.

هر چا به ويل چې هغه، لېونی دی.

د اوايي ډګر، اړونده کسانو هغه يې البته وساته، تر څو څرګنده شي چې په ريښتيا لېونی دی او که هسې ځان يې په ټکی وهلی دی.

په ډګر کې به نورو عسکرو هغه ته لېونی، ويل.

هغه په ډګر کې په لېوني ملا سرغندوی (مشهور) شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

يوه ورځ يې په چيغو، چيغو ژړل.

په دې وخت کې يوه جنرال چې نوم يې عصمت او مستعار نوم (تخلص) يې مسلم، نومېده په اوايې ډګر کې الوتکې ته انتظار کوه، تر څو کابل ته لاړ شی.

هغه د ملا قاسم د چيغو غږ واورېد.

خپل يوه ساتونکی ته يې و ويل:

ته لاړ شه او د کس نه پوښتنه وکړه چې، ولې ژاړي.

ساتونکی يې هغه ته نږدی او ويې پوښتل:

هغه په ژړا، ژړا کې هغه ته يې خپله لنډه کيسه وکړه.

ساتونکی هم خواشينی او بېرته يې عصمت مسلم ته، د هغه ژړا سبب وړاندې، کړ.

د کوماندان پر هغه زړه وسوځېد او هغه يې ځانته وباله.

ملا قاسم هم، کوماندان ته نږدې او لنډه کيسه يې په ژړا سره، هغه ته، بيان کړه.

کوماندان، ډېر خواشينی شو او هغه ته يې و ويل:

دلته نږدې کښېنه!

لږ ځنډ وروسته الوتکه له کابل نه، راځي.

بيا به دې له ځانه سره، بېرته کابل ته يوسم.

ملا قاسم خوشحاله شو او هغه ته يې د خير دوعا، وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

نیمه ګړۍ وروسته، الوتکه د کابل ښار نه، کندهار اوایي ډګر ته ورسېده او الته، کوزه شوه.

خلک د الوتکې نه کښته شوو او د اوایي ډګر ودانۍ ته ننوتل.

بیا کوماندان پر خپل ساتونکي غږ کړ.

اله!

ژر ملا صیب له ځانه سره الوتکي خوا ته، یوسه.

په دې وخت کې یوه عسکر غږ کړ:

دا لیونی زمونږ په قبضه کې دی.

تاسو، هغه چېرې بیایې؟

ساتونکي و ویل:

هغه د کوماندان په امر بېرته کابل ته، بیا یو.

عسکر و ویل:

ته دلته اوسه!

زه خپل مشر ته خبر ورکړم.

ساتونکي و ویل:

ډېرې خبرې مه کوه.

زه لاس دې خلاص.

بیا یې ملا قاسم مخکې او د اوایي ډګر ودانۍ نه،په ګډه و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د الوتکې خوا ته، روان شو.

د الوتکې په دروازې کې، ستېوردیسې ولاړې، وې.

د مسافرو نه یې د ټکټ پوښتنې کوې.

هر کس به د ننوتو نه د مخه، خپل ټکټ ښوده.

په د ې وخت کې د ملا قاسم وار، راغی.

ستېوردیسې د هغه نه، د ټکټ پوښتنه وکړه.

هغه و یل:

زه خو، ټکټ نه لرم.

بیا هغې و ویل:

خیر، کوز شه.

د ساتونکې ورته پام شو.

هغه و ویل:

دا زمونږ د کوماندان، کس دی.

بیا ملا قاسم ته نږدې شو او هغه یې د لاسه ونیو او ځانته، نږدې یې پر یوې څوکۍ کښېناوه.

الوتکه ډکه شوه.

ستېوردیسو د الوتکې دروازه، وتړه.

د الوتکې زینه لرې او الوتکې په حرکت، پیل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ ځنډ وروسته د ځغاستو سړک ته، ورسېده.

بیا یې په ځغاستو پیل او اوا (هوا) ته پور ته شوه.

ګړی نه وه تېره شوې چې الوتکه، کابل ښار ته ورسېده او لږ ځنډ وروسته، د کابل ښار اوايي (هوايي) ډګر کې، ښکته شوه.

د ښکته کېدو له پاره، اړونده زینه ورسېده او د الوتکې دروازې ته څېرمه ودرېده.

ستوردیسو د الوتکې دروازه خلاصه کړه.

بیا یې مسافرو ته و ویل:

کابل ښار ته ښه راغلاست.

اوس کولای شئ، خپلې کڅوړې له ځانه سره کوزې کړئ.

خلک له ځایونونه پاڅېدل، کڅوړې او نور وسایل یې له ځانه سره واخیستل او د الوتکې نه په وار سره، ښکته شوو.

ملا قاسم ډېر وېرېدلی و.

په زړه کې یې تېر شوه اوس بیا هغه عسکری ته و نه، نیسي.

په دې وخت کې د کوماندان ساتونکې، پر هغه غږ کړ:

مه وېرېږه!

زه در سره، یم.

بیا ملا قاسم د کوماندان ساتونکي سره، د اوايي ډګر ودانۍ نه، و وت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکسي يې و نيو.

بيا سيده، د روغتون د انګړ دروازې ته ځېرمه ودرېد.

په منډو روغتون ته د ننه شو.

د نوکريوال کوټې دروازه يې خلاصه کړه.

نوکريوال و ويل:

خيريت دی؟

ولې وارخطا، يې.

ملا قاسم و ويل:

ښځه مې څنګه ده؟

نوکريوال و ويل:

کومه ښځه؟

هغه و ويل:

زما ښځه.

کومه مې، چې د زېږون له پاره، راوستې وه.

نوکريوال و پوښتل:

کومه ورځ دې راوستې وه؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................

يوه اونۍ نه، مخکې.

بيا هغه و ويل:

ته، کښېنه!

دا دی، زه به کتاب وګورم.

نوکريوال، کتاب خلاص د نومونو په ويلو يې پيل کړ.

په دې ترڅ کې يې د هغه د ښځې نوم، واخيست.

هغه و ويل:

هو!

همدا ده!

څنګه او چېرته ده؟

نوکريوال، سوړ اوسېلی وباسه او هغه ته يې و ويل:

تر اوسه چېرې وې؟

هغه و ويل:

پر ما يوه پېښه شوې وه.

بيا يې په لنډه، هغه ته بيان کړه.

نوکريوال و ويل:

څه چې د خدای رضا وي، هغه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

ستا ښځه وفات شوې او خپل پاتې عمر يې تا ته، وباښه.

خو ماشوم دې، ژوندی دی.

ته دلته کښېنه!

زه به، درته د يوه امبولانس موټر امر واخلم.

د ملا قاسم اوښکې، وچې او هک پک شو.

نوکريوال، په چټکۍ سره، هغه ته د امبولانس امر واخيست.

چلونکی يې و موند او د سړې خونې تر څنګ يې، امبولانس ودراوه.

مړی د پخوانه منځل شوی او کفن شوی و.

هغه يې د نورو کسانو په مرسته، په امبولانس کې کېښنود.

بيا يې ملا قاسم ته، و ويل:

موټر ته، پورته شه!

هغه موټر ته پورته شو.

بيا هغه، يوې نرسې ته، و ويل:

ژر شه!

د هغه ماشوم، راوړه!

هغه هم په چټکۍ سره، د ماشوم خونې ته ننوته، د هغه زوی يې په کوشنۍ کمپلې کې تاو او راوړ.

بيا نوکريوال، ماشوم يې د ملا قاسم په غېږ کې، ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې د امبولانس چلونکي ته و ویل:

چېرته چې ملا قاسم وایي لاړ، شه.

چلونکی د وتو پارچه واخیسته او د روغتون انګړ نه، و وت.

امبولانس د ملا قاسم د کور پر لور حرکت وکړ.

ورو، ورو کورته، نږدې کېدل.

د ملا قاسم د زړه ډبس هم مخ په ډېرېدو شو.

څنډ وروسته د کور دروازې ته نږدې شو.

ملا قاسم و ویل:

ته ودرېږه!

زما ماشومان په کور کې پاتې دي.

امبولانس، ودرېد.

ملا قاسم په چټکۍ سره له موټر نه، کوز شو.

کیلۍ یې د جب نه وباسې.

د دروازې کلف (قفل) یې خلاص او په منډو کوټې ته، د ننه شو.

ویې لید چې ماشومان یې ویده ښکاري.

هغوی ته، نږدې شو.

و یې خوزول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

خو!

هغوی هم د ولړې نه، ساه ورکړې وه.

اوښکې یې نه راتلې.

بېرته د باندې شو.

حیدرې چغه یې وکړه.

شاو خوا کسانو منډې کړې.

کسان د امبولانس تر شاو خوا، راټول شو.

بیا ملا قاسم و ویل:

هم مې ښځه له لاسه ورکړه او هم مې دوې ماشومان.

خلک هم ډېر خپه شو.

بیا یې د ملا قاسم نه د پېښې په هکله پوښتنې وکړې.

هغه هم، په لنډه توګه خپله کیسه (قصه) بیان کړه.

په دې وخت کې ملک هم ورسېد.

د کیسې نه یې ځان، پوی کړ.

بیا یې خلکو ته دندې وسپارې چې د ماشومانو او د هغوی د مور د ښخولو چارې پیل کړې.

ځوانانو په منډو سره قبرونه په نږدې قبرستان کې و کارل (و وېستل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

خلکو د ماشومانو د منځلو او د هغوی د کفن کولو چارې پیل کړې.

مړی یې د جومات انګړ ته، د ننه کړ او بیا یې امبولانس، رخصت او د هغه د چلونکي نه یې مننه وکړه.

دوې ماشومان هم د ښخولو د پاره، تیار شو.

خلک نور هم خبر او د ملا قاسم سره غم شریکه شوو.

څو دکیکي وروسته، د سیمې خلکو مړي په کټونو کې، کېښودل او قبرستان ته یې ولېږدول.

ټول یې د رسم او رواج سره سم، خاورو ته، وسپارل.

بیا وروسته خلک بېرته د ملا قاسم کور ته، لاړل.

ټولو ملا قاسم ته د زړه صبر، ښځې او ماشومانو ته یې د فردوس جنت ،غوښتنه وکړه.

خلکو د ملا قاسم سره د هغه ماشوم په ساتلو کې مرسته کوه.

هغه ډېر تر فشار لاندې راغلی و.

په سوچ کې ډوبېده او هغه و ختونه به یې په یاد راتلل چې، عسکرو نیولي، کندهار ته یې لېږلی او څرنګه، خلکو پرې مړندې وهې او هغه ته به یې لېونی ویل.

لږ څنډ وروسته، هغه په روحې ناروغی، اخته شو.

ملک او نورو کسانو د هغه په درملنه پیل کړ.

د هغه په وجود کې د ماشوم د لویولو ، توان، نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لېونی ملا

.................

ماشوم يې د خپل ورو ته ورکړ.

خپله يې هم د هغه ځای نه و وتې او د ورور کورته لاړ.

هغه به دوا (دوايي)، اخيسته او ډېرى وخت به، ويده وه.

په هېواد کې حالات، ګډ وډ شو.

په سيمې کې، کورنۍ جګړې پيل شوې.

په زر هاو کسانو خپل ژوند، د لاسه ورکړ.

کورونه او دانۍ، ويجاړې شوې.

خلک اړ شو چې د يوې سيمې نه، بلې سيمې ته کډه وکړي.

جګړه لا ګړندۍ او د کابل ښار نورو سيمو ته، خپره شوه.

خلک د خپلو کورونو پرېښودو ته، اړ شوو.

څه نورو ولايتونو ته، کډه شو. او ځينو نور هم هېواد پرېښودو ته، اړ شوو.

ملا قاسم هم، د خپلو او خپلوانو سره، پا کستان هېواد ته، ګده شو.

الته د مهاجرينو په يوه پنغاړي (کمپ) کې مېشت شو.

غمونه يې ورځ تر بلې ډېرېده.

کال وروسته دوايي يې پرېښوده او سم (روغ) لېونی شو.

د خپلوانو کوريې پرېښود.

شپه او ورځ به د باندې په کوڅو کې ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لېونی ملا**

.................

کله به يې خيرات او کله به يې کسان کلک و نيول او تر څو چې به يې پيسې نه وې ورکړې، هغه به يې نه پرېښود.

او کس ته به يې په دري ژبه ويل:

د ماشوم پيسې راکړه.

بيا به يې هغه پيسې غونډوی، کوڅو، سړکونو او واټونو کې به يې په ماشومانو وېشې.

د هغه د اوسني ژوند او ځای په هکله د کيکه (دقيقه) مالومات نه شته.

مګر د ځينو کسانو په وينا، د ملا قاسم ماشوم (اولاد) اوس هم ژوندی، لوی شوی او د هغه ورور سره، ژوند کوي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاریه / دنیای انجینری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان، بر بر در فن معماری و معماری
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چي قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېونی ملا

.................

۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
۵۰. د وچو بنونه او پارکونو معماري
۵۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
۵۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
۵۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۵٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
۵۵. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
۵٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
۵۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
۵۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۵۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې ناوي (پښتو ناول)
٦۱. دخاخکو هار (د یوه سړي لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

١. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٢. مجموعه از دروس دينی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد پنجم)
٣. ليونی لېوه
٤. د خاورو لاندې ښار
٥. سپين کارغه
٦. سور تنور
٧. خړه بيزو
٨. بندي مرغه
٩. توده برستن
١٠. بې وخته باران
١١. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Krazy

# Mullah

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** April - May /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**